امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و ارتباط عامه



هفته نامه
# مدیریت حوادث

۱۳ الی ۱۸ دلو ۱۴۰۳

## شماره نودو چهارم

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د افغانستان لپاره د کليو بيا ودانولو مؤسيسې درئيس سره د ۱,۲۴۳,۰۱۳( يو میلون دوه لکه درې څلويښت زره او ديارلس) ډالرو په ارزښت تفاهم نامه لاسليک کړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملانورالدین ترابی د افغانستان لپاره دکلیو بیا ودانولو مؤسیسې درئیس ریاض ولی او دمرکزی زون مسؤل روح الله کریمی سره د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲ نیټه په خپل کاری دفتر کی وکتل.

ترابی صاحب ترهرڅه مخکی راغلی پلاوی ته ښه راغلاست ووایه او زیاته یې کړل چې موږ خوښ یو چې مؤسیسات تر بل هر وخت په اوسنی وخت کی د زیانمنو کورنیو سره مرسته کوی...

ادامه در صفحه۲

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د افغانستان لپاره د جاپان د سفير سره وکتل.



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست الحاج ملانور الدين ترابې د جاپان د سفير داکتر تکايوشی کروميا، لومړی سکرترهيروتکا کواکمی او ورسره راغلي پلاوی سره د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۵ نيټه په...

ادامه در صفحه ۴

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د امارتی مسؤلينو او موسسو په شتون کې د پېښو د مديريت پنځه کلن ستراتيژيک پلان مخکتنه وکړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدين ترابې، د امارتی ادارو او د مرستندويو موسسو د مسؤلينو په شتون کې د پېښو د مديريت پنځه کلن ستراتيژيک پلان مخکتنه وکړه.

ادامه در صفحه۳

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د افغانستان لپاره د بشر پالنی مؤسيسې سره د ۲۹,۷۲۵,۰۰۰ نهه ويشت ميلونه اوه لکه پنځه ويشت زره افغانيو په ارزښت تفاهم لاسليک کړه.



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدين ترابې د افغانستان لپاره دبشر پالنی مؤسيسې د نماينده محمد نعمان قريشی سره د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۳ نيټه په خپل دفتر کی وکتل...

ادامه در صفحه۲

@afghanistanndma
Afghanistanndma
andma.gov.af
0202104926

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د افغانستان لپاره د کلیو بیا ودانولو مؤسیسې درئیس سره د ۱،۲۴۳،۰۱۳( یو میلون دوه لکه دری څلویښت زره او دیارلس) ډالرو په ارزښت تفاهم نامه لاسلیک کړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملانورالدین ترابي د افغانستان لپاره دکلیو بیا ودانولو مؤسیسې درئیس ریاض ولی او دمرکزی زون مسؤل روح الله کریمی سره د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲ نیټه په خپل کاری دفتر کی وکتل.

ترابي صاحب ترهرڅه مخکی راغلی پلاوی ته ښه راغلاست ووایه او زیاته یې کړل چی موږ خوښ یو چی مؤسیسات تر بل هر وخت په اوسنی وخت کی د زیانمنو کورنیو سره مرسته کوی.

همدا راز ترابي صاحب زیاته کړه چی موږ تل هڅه کړی ده او تل به هڅه کوو چی مؤسیساتو او خیریه سازمانونو ته اسانتیاوی رامنځ ته کړو تر څو پر وخت مرستی تر خلکو ورسیږی.

د افغانستان لپاره دکلیو بیا ودانولو مؤسیسې رئیس، ریاض ولی وویل چی یاده مؤسیسه په ۱۹۹۰ کال کی فعالیت پیل کړی دی او د افغان اولس لپاره یې غوره خدمتونه وړاندی کړی دی او تل به هڅه کوی چی نور هم خپل خدمتونه پیاوړی کړی.

دیادونی وړه ده چی یاده تفاهم نامه د ۱،۲۴۳،۰۱۳( یو میلون دوه لکه دری څلویښت زره او دیارلس) ډالرو په ارزښت ده چی په مجموعی ډول ۸۵۹۴ کورنیو ته نغدی پیسې او کیټونه ویشی چی په دې کی ۶۸۰۲ کورنیو ته د ارزګان ولایت په مرکز ترینکوټ، د دهراود او د خاص ارزګان په ولسوالیو کې او ۱۷۹۲ کورنیو ته د ننګرهار ولایت په مهمندره، سرخ رود او دکوز کونړ په ولسوالیو کې مستحقو کورنیو نغدی پیسی او کیټونه ویشی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د افغانستان لپاره د بشر پالنی مؤسیسې سره د ۲۹،۷۲۵،۰۰۰ نهه ویشت میلونه اوه لکه پنځه ویشت زره افغانیو په ارزښت تفاهم لاسلیک کړه.



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي د افغانستان لپاره دبشر پالنی مؤسیسې د نماینده محمد نعمان قریشی سره د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۳ نیټه په خپل دفتر کی وکتل.

ترابي صاحب وویل چی موږ باید له پېښی مخکی وقایه لرو ترڅو پیښه زیات زیان ونه رسوی او کله چی پیښه وسی باید مرستی چمتو وی تر څو پر وخت خلګو ته ورسیږی.

همدا راز ترابي صاحب زیاته کړه چی باید مرستی مستحقو کورنیو ته ورسیږی تر څو زیانمنی کورنۍ پر وخت دمرستو څخه برخمن سی.

افغانستان لپاره د بشر پالنی مؤسیسې نماینده محمد نعمان قریشی وویل چی موږ په بیلابیلو برخو کی کار کوو او دا پروژه به هغه وخت عملی کیږی کله چی په یاد ولایت کی پیښه رامنځ ته کیږی نو WFP سازمان به لاس په کار کیږی او زیانمنو نغدی مرستی به زیانمنو کورنیو ته ویشو.

دیادونی وړ ده چی یاده تفاهم نامه د ۲۹،۷۲۵،۰۰۰نهه ویشت میلونه اوه لکه پنځه ویشت زره افغانیو په ارزښت لاسلیک سوه د کندهار ولایت په ټولو ولسوالیو کی د طبعی پیښو له زیانمنو سره به هغه وخت مرسته تر سره کیږی کوم وخت چی یوه طبیعی پیښه وسی دغه همکاری به د کندهار په ښار او همدارنګه په ټولو ولسوالیو کی د خوړو نړیوال پروګرام WFP په همکاری ترسره کیږی په مجموعی ډول ۵۱۲۵ کورنیو نغدی مرستی ویشل کیږی چی هری کورنۍ ته به ۵۸۰۰ افغانی ویشل کیږی.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د امارتي مسؤلینو او موسسو په شتون کې د پېښو د مدیریت پنځه کلن ستراتیژیک پلان مخکتنه وکړه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی، د امارتي ادارو او د مرستندویو موسسو د مسؤلینو په شتون کې د پېښو د مدیریت پنځه کلن ستراتیژیک پلان مخکتنه وکړه.

دغه پروګرام چې د قرآنکریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شو، د کورنیو چارو ، د بهرنیو چارو ، ملی دفاع، عامې روغتیا، ټولګټو، کرنې او اوبو لګولو، کانونو او پټرولیم، پوهنې، ښار جوړونې، اقتصاد، مالیې، کډوالو، حج او اوقافو ، د مخابراتو وزارتونو، د سرې میاشتې، چاپېریال ساتنې ، د احصایې او معلوماتو ادارو ، د کابل پوهنتون استادانو، د IOM، UNICEF، KING Salman، IFRC، CWSA، REHA، NAMA موسسو، اروپایی ټولنې او د آغا خان بنسټ استازو پکې ګډون کړی و.

په پیل کې، د CWSA موسسې استازی عبدالرحمن هاشمی، د پروګرام په اړه معلومات وړاندې کړل او ویې ویل چې دغه مؤسسه د مخکینی او اوسنی ستراتیژیک پلان په چمتو کولو کې همکاره وه او له دې ادارې سره به خپلې همکارۍ ته دوام ورکړي.

په همدې حال کې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست د مېلمنو تود هرکلی وکړ او له REHA او CWSA موسسو څخه یې د پلان د ترتیب په برخه کې د همکارۍ له امله مننه وکړه. نوموړي زیاته کړه چې د پنځه کلن ستراتیژیک پلان ترتیب د بېلابېلو پړاوونو څخه تېر شوی او د ټولو اړوندو امارتي ادارو او همکارو موسسو نظرونه پکې شامل شوي دي.

ترابی صاحب وویل چې دغه پلان د پنځو اساسی برخو لکه، د وقایې او د خطرونو کمول، چمتووالی، ځواب ویني، بیا رغونی، او د ماین پاکۍ عملیات په درلودو سره جوړ شوی. نوموړي ټینګار وکړ چې دا اداره یو بشری سازمان دی او باید له سیاسی مسایلو پرته خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړي.

همداراز، نوموړي له مرستندویو موسسو  څخه وغوښتل چې لکه څرنګه یې د پلان په ترتیب کې له موږ سره همکاري کړې، د پلی کولو په برخه کې یې هم همکاری وکړي او اداره یوازې پرې نږدي.

نوموړي د ادارې د شفافیت او چټک کار ډاډ ورکړ او څرګنده یې کړه چې له موسسو سره نږدې اړیکې لري او غواړي چې دا اړیکې لا پیاوړې شي.


په همدې حال کې، د CWSA موسسې رئیس، تکاشی کمینو، د جاپان څخه په یوه ویدیویی پیغام کې د افغانستان او جاپان جغرافیایی موقعیتونه د طبیعي پېښو له اړخه ورته وبلل او ژمنه یې وکړه چې دا سازمان به د پېښو د مدیریت پنځه کلن ستراتیژیک پلان په پلی کولو کې همکاری وکړي.

په پای کې، له څو مهمو پریزنټیشنو وړاندې کولو وروسته، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی لخوا د پنځه کلن ستراتیژیک پلان مخکتنه وشوه.

او د یاد پلان کاپی OCHA، IFRC اتحادیه اروپا سازمانونو استازو ته ورکړل شوې.

او غونډه د خیر په دعا سره پای ته ورسېده.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د افغانستان لپاره د جاپان د سفير سره وکتل.



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملانور الدين ترابی د جاپان د سفير داکتر تکايوشی کروميا، لومړی سکرترهيروتکا کواکمی او ورسره راغلی پلاوی سره د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۵ نيټه په خپل کاری دفتر کی وکتل.

ترابی صاحب ښاغلی سفير او ورسره پلاوی ته ښه راغلاست وويل او له پيښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې پر لاسته راوړنو او مشکلاتو يی ګډ بحث وکړ او يادونه يی وکړه چی په افغانستان کی زيات شمير خلګ د غربت او بې وزلۍ سره مخ دی او مرستو ته جدی اړتيا لری او يادونه يې وکړه چی موږ نن دپنځه کلن ستراتيژک پلان مخکښته وکړه او بايد يې په تطبيق کی پوره همکاری وکړی.

همدا راز ترابی صاحب زياته کړه چی جاپان هيواد تل زموږ سره د مرستو په برخه کی زياته همکاری کړی ده او موږ ورڅخه مننداوی يو او پر راتلونکی کی د لازياتو همکاريو او مرستو غوښتنه وکړه او د جايکا او ټيکا سازمانونو څخه يی مننه وکړه چی ددې ادارې ۱۰ تنه کارمندانو ته يی دپيښو دمديريت په برخه کی دترکيی په هيواد کی ټرينګ ورکړی.

د جاپان سفير داکتر تکايوشی کروميا، ديادی ادارې د سرپرست څخه مننه وکړه او افغانستان يې د جاپان هيواد يو ښه دوست هيواد ياد کړ او د خپلو کړو مرستو يادونه يی وکړه او وويل چی لابه هم خپلو مرستو ته دوام ورکوو ترڅو نور هم ددغه دوو هيوادنو اړيکی پياوړی سی.

ښاغلی سفير د يادی ادارې دسرپرست څخه مننه وکړه چی تل يی مؤسيساتو سره همکاره ده او تل يې زيانمنو کورنيو ته په شفافيت مرستی رسولی دی ښاغلی سفير داهم وويل چی موږ به د پنځه کلن ستراتيژيک پلان په تطبيق کی ستاسو سره پوره همکاری وکړو.

دغونډی په ورستيو کی پر ګډو همکاريو ټينګار وسو.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د اسلامی هوساينې نړيوالې موسسې له سرپرست سره د ۴۱۴،۸۶۵ (څلور لکه څلورلس زره اته سوه پنځه شپيته) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاريو تفاهم نامه لاسليک کړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدين ترابی، د اسلامی هوساينې نړيوالې موسسې له سرپرست محترم شريف احمد سره د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۶ نيټه وکتل او د ګډو همکاريو تفاهم‌نامه يې ورسره لاسليک کړه.

په دې ناسته کې، ترابی صاحب راغلی پلاوی ته د ښه راغلاست ويلو ترڅنګ د اسلامی هوساينې نړيوالې موسسې له مرستو څخه مننه وکړه او ويې ويل چې دا د روژې مياشتې مرستې ډېرې مهمې او ارزښتناکې دی او اړتيا ده چې د روژې مبارکې مياشتې له را رسېدو مخکې مستحقو کسانو ته وويشل شی.

همداراز نوموړی غوښتنه وکړه چې دا ډول مرستې دې د هېواد په نورو برخو کې هم اړمنو خلکو ته ورسيږی.

وروسته د اسلامی هوساينې نړيوالې موسسې سرپرست شريف احمد، د ترابی صاحب له هرکلی او همکارۍ څخه مننه وکړه او ويې ويل چې دا مرستې د روژې مياشتې مرستې تر نامه لاندې د طبيعی پيښو له امله زيانمنو شويو کورنيو بې‌وزله او اړمنو کسانو ته د خوراکی توکو برابرولو په موخه په هرات او غور ولايتونو کې ويشل کيږی.

د يادونې وړ ده چې ياده تفاهم نامه چی د ۴۱۴۸۶۵ څلور لکه څلورلس زره اته سوه پنځه شپيته ډالرو په ارزښت لاسليک سوه له مخې به يې په هرات او غور ولايتونو کې ۴،۶۵۱ کورنيو ته د روژې مياشتې لپاره مرستې ورکړل شی، چې هرې کورنۍ ته به ۵،۰۴۹ افغانۍ ووېشل شی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د سرپرست په مشرۍ د څارنې او ارزونې ګډ هیئت د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه کتنه وکړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی په مشرۍ چی مرکزی رئیسانو یی ملتیا کوله د څارنې او ارزونې، د کارونو د لا شفافیت او پرمختګ په موخه د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۶ نیټه کتنه وکړه.
ترابی صاحب وویل چی دا څارنه او ارزونه چی نن د کابل ولایت د ریاست څخه پیل سوه و به وکولای سو چی د مرکزی او ولایتی ریاستونو په کارونو کی پوره شفافیت، پرمختګ او چټکتیا راولو او ټول کارمندان به د خپلو لایحو او کاری پلانونو مطابق کارو ته متوجې کړو تر څو اولس ته غوره او پر وخت خدمتونه وکړی.
همدا راز ترابی صاحب زیاته کړه چی دا هئیت مو د ډیرو اداری مجلسونو او مشورو ورسته جوړ کړی دی او لمړۍ مو د مرکزی ریاستونو او کارمندانو څخه څارنه او ارزونه کړی ده او نن ورځ مو عملاً د کابل ولایت د ریاست څخه پیل کړه چی دا څارنه او ارزونه به د ۳۴ ولایتی ریاستونو څخه وسی چی هر زون ته به د دیادی ادارې د سرپرست، معاون او یا هم مرکزی رئیس په مشرۍ یو ګډ هئیت ولیږل سی تر څو د یادو ریاستونو څخه کتنه او ارزونه وکړی.
ورسته ګډ هیئت د ټولو شعباتو، کارونو، دوسیو، ګدامونو او اسنادو څخه څارنه وکړه او د ټولو کارمندانو څخه یې د دندو د لایحو او کاری پلان پوښتنه وکړه او ټولو ته یې سپارښتنه وکړه چی خپل کارونه پر وخت خلاص کړی او هغه اسنادونه د ځان سره وساتی چی دیادی ادارې څخه ورته راځی.

## د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۰۰ زیانمنو کورنیو ته د خوراکی توکو مرستې وویشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د نه آنلوس موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ، د دې ولایت د ۱۵ ناحیې اړوند ۱۰۰ زیانمنو کورنیو ته د خوراکی توکو مرستې وویشلې.
په دې لړۍ کې له سروې وروسته هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲ بورۍ ۵۰ کیلویی اوړه، ۱۰ لیټره غوړی، ۷ کیلو بوره، ۷ کیلو لوبیا، ۷ کیلو وریجې او د ۱ کیلو چای مرستې  وویشل شوې.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د کارکوونکو لپاره د کړنو د ارزونې لارښود پروګرام ترسره شو




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د کارکوونکو چارو ریاست د کارکوونکو د کړنو د ارزونې آمریت له لوری د اداری اصلاحاتو او ملکی خدمتونو کمېسیون سره په همغږۍ د کاری پلان، ارزونې فورمو او د کاری راپور د لارښود پروګرام، د یادې ادارې د رئیسانو، آمرینو او کارکوونکو لپاره د دې ادارې د کنفرانسونو په تالار کې د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۴ نیټه ترسره کړ.

دا پروګرام د بېړنیو حالاتو د عملیاتو د مرکز رئیس قاری محمد خوشحال زمانی لخوا د قرانکریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شو.

په پیل کې د دې ادارې د کارکوونکو چارو رییس مولوی محمد عابد نعمانی، ګډونوالو ته د دی پروګرام د معرفي او اهمیت په اړه خبرې وکړې. نوموړی د کاری راپور، کاری پلان او د کارکوونکو د ارزونې ترتیب د ملکی خدمتونو د کارکوونکو د چارو د اغېزمنتیا او ښه والی لپاره مهم وباله او زیاته یې کړه چې زموږ دنده د خلکو ښه خدمت کول ده، باید هڅه وکړو چې د منظم پلان له مخې، خپل فعالیتونه په ښه توګه خپاره کړو، څکه چې موږ هر یو په خپله دنده کې مسئولیت لرو، او باید هڅې وکړو ترڅو دا مسؤلیت په ښه توګه ترسره کړو.

ورپسې د ملکی خدمتونو د کړنو، څارنې او ارزونې آمر احمد فواد حقبین، د دی پروګرام په اړه معلومات وړاندې کړل او ویې ویل: دا پروګرام د کاری پلان د جوړولو، ترتیب او د کارکوونکو د کاری راپور د وړاندې کولو د ټولو اړخونو په اړه دی، او له دې فرصته باید ښه ګټه واخیستل شی او د دې ترتیب او پلی کولو ته باید ښه پاملرنه وشی.

په پای کې، د ملکی خدمتونو د کړنو، څارنې او ارزونې کارپوه سمیع الدین صمیم، د کاری پلان د ترتیب او د راپور ورکولو په اړه ګډونوالو ته د پرېزنټېشن وړاندې کړ.

# ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار برای ۱۸۰ خانواده نیازمند کمک‌های غیرخوراکی توزیع کرد




بر اساس تفاهم‌نامه‌ای که میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه درمان امضا شده بود، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار در هماهنگی مؤسسه متذکره، برای ۱۸۰ خانواده نیازمند در شهر جلال‌آباد کمک‌های غیرخوراکی توزیع کرد.

در این روند، بعد از سروی با حضور مسئولین، به هر خانواده ۲ تخته کمپل و لباس برای کودکان توزیع گردید.

## له پېښو سره د مبارزې امادګۍ ملي ادارې سرپرست د افغان ماشومانو لپاره د المان مرستو مؤسيسې د راغلي پلاوی سره وکتل



له پیښو سره دمبارزې امادګۍ ملې ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدين ترابي د ننګرهار ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئيس مولوی سيف الله خالد د افغان ماشومانو لپاره د المان مرستو مؤسيسې د رئيس حاجی محمد حليم او معاون مصطفی خان سره د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۴ نيټه په خپل کاری دفتر کی وکتل.

ترابي صاحب د يادی مؤسيسې راغلی پلاوی ته د ښه راغلاست ترڅنګ وويل چی خوښ يو چی مؤسيسات د اولس لپاره دبهر هيوادونو څخه مرستی راټولوی او پر مستحقو کسانو يی ويشی  او ددې مؤسيسې د ټول کاری ټيم څخه يی مننه وکړه چی په سختو شرايطو کی زموږ دزوريدلی اولس سره همکاری کوی.

او زياته يې کړل چی دټولو مؤسيساتو او سازمانونو څخه مو غوښتنه داده چی د طبعی او غيری طبعی پيښو زيانمنو کورنيو سره پوره همکاری وکړی.

د افغان ماشومانو لپاره د المان مرستو مؤسيسې رئيس حاجی محمد حليم وويل غواړو چی افغان اولس ته دبيلابيلو لارو څخه مرستی برابری کړو او پر مستحقو کسانو يی وويشو.

همداراز يی وويل چی ددې اونۍ تر پايه به په کابل ولايت کی ۲۰۰ زيانمنو کورنيو خوراکی او غير خوراکی مرستی ويشل کيږی چی هری کورنۍ ته ۵۰ کيلو وړه،۱۰ کيلو ورجی، ۱۰ ليتره غوړی، ۵ کيلو لوبيا، ۵ کيلو بوره، نيم کيلو شين چاوی،  ۳۵ کيلو لرګی د بخارۍ لپاره،د  ماشومانو لپاره ۱دانه جمپر، يوه جوړ کرميچ او يوه جوړه جرابی ويشل کيږی.

## د کندهار ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست ۲۰ زيانمنو کورنيو ته خوراکی او غير خوراکی توکی وويشل



د کندهار ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست د وروستيو بارانونو او اورلګېدنې له امله زيانمنو او بېوزله ۲۰ کورنيو ته له سروې وروسته خوراکی او غير خوراکی توکی وويشل.

په دې لړۍ کې، هرې کورنۍ ته د ولايت د مقام او د مهاجرينو د رياست د مسؤلينو په شتون کې ۵۰ کيلو وريجې، ۸ تختې کمپلې، ٤ عدده خېمې، ٥ عدده ترپالونه، ۱ عدد پلاستيکی سطل او ۲ جوړې څپلۍ وويشل شوې.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د افغان پراختیایی خیریه لویې مؤسیسې د رئیس سره د ۳,۸۴,۹۵۰ (دری لکه څلور اتیا زره او نهه سوه یو پنځوس ) ډالرو په ارزښت تفاهم نامه لاسلیک سوه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی  د افغان پراختیایی خیریه لویې مؤسیسې د رئیس عبیدالله همت او د اړیکو مسؤل انعام الله ارمان سره د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۴ نیټه په خپل کاری دفتر کی وکتل.

ترابی صاحب راغلی پلاوی ته ښه راغلاست ووایه او دیادې مؤسیسې څخه یې مننه وکړه چی زیانمنو کورنیو ته مرستی رسوی او تل باید کوښښ وسی چی ژمنی مرستی ونه ځنډول سی.

همدا راز ترابی صاحب زیاته کړل چی موږ هڅه کوو چی مؤسیساتو ته اسانتیاوی رامنځ ته کړو او مؤسیسات هم باید په خپلو کارو کی شفافیت راولی او مرستی پر وخت تر زیانمنو خلګو ورسوی.

د افغان پراختیایی خیریه لویې مؤسیسې د رئیس عبیدالله همت دیادی ادارې د سرپرست څخه مننه وکړه چی تل یی زموږ سره همکاری کړی ده او موږ به یادی مرستی ژر تر ژره ورسوو.

دیادونی وړه چی د یادې تفاهم نامې له مخی به یې په بدخشان ولایت کی هغو ۹۴۳ بې وزلو کورنیو ته چی د ژمی لپاره د سون مواد او ګرمی جامې نلری هرې کورنی ته به ۲۷۴ امریکایی ډالره او یا د هغه معادل افغانی نغدی ورکول.

هغو ۹۴۳ بې وزلو کورنیو ته د کمپلو ویشل؛ چی هرې کورنی ته به ۵ تختې کمپلی چی یوه تخته یې دوه نفرې او ۴ تختی نوری یې یو نفره دی ورکړل شی چی د هری بستی ارزښت  ۵۷ امریکایی داله ده.

## د تخار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵,۵۱۳,۶۷۸ افغانۍ نغدی پیسې او غیرخوراکی توکی ۲۵۷ کورنیو ته وویشلی

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د OHW موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، یادې موسسې د تخار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست سره په همغږۍ، ۲۵۷ کورنیو ته (د ژمنیو مرستو لپاره  د پېښو له امله د زیانمنو کورنیو ملاتړ) تر نامه لاندې نغدی او غیرخوراکی مرستې وویشلې.



په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۲۱,۴۵۴ افغانۍ او ۶ تختې کمپلې وویشل شوې چې ټولټال ۵,۵۱۳,۶۷۸ (۵ میلیونه، ۵۱۳ زره او ۶۷۸) افغانۍ نغدی پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## د سرپرستی رئیسی او WFP له ښېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د خوړو نړیوال سازمان راغلي پلاوی سره وکتل




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي د خوړو نړیوال سازمان د سرپرستی رئیسی میرمن موتینتا چیموکا، د خوړو د سیستمونو مسؤله میرمن انو سارا، داړیکو او بیړینو مرستو مسؤل عبدالرازق ایوبی او دبیړنیو مرستو کار پوه نوراحمد فیروزی سره د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۴ نیټه په خپل کاری دفتر کی وکتل.

ترابی صاحب له هرڅه وړاندی د WFP پلاوی ته ښه راغلاست وویل او زیاته یې کړه چې WFP سازمان تل افغان اولس ته بشری مرستی رسولی دی چی موږ ورڅخه ځانګړی مننه کوو او تل هڅه کوو چی بیلابیلو سازمانونو او مؤسیساتو ته په هره برخه کی اسانتیاوی رامنځ ته کړو او په دې برخه کی موږ ډیر کار کړی دی.

همدا راز ترابی صاحب وویل چی موږ ډیټابیس لرو چی هغه سیمی پکښی په نښه شوی دی چی خلګ د خطر ویره څینی لری او هغه سیمی چی زموږ سره په ډیټابیس کی ثبت دی استنادی دیوالونو او بیلابیلو پروژه ته اړتیا لری.

د خوړو نړیوال سازمان سرپرستی رئیسی میرمن موتینتا چیموکا د یادې ادارې د سرپرست څخه مننه وکړه چی تل یې خلګو ته غوره خدمتونه وړاندی کړی دی او لاهم د خلګو دخدمتونو لپاره هڅی کوی.

اغلی چیموکا زیاته کړه چی موږ او تاسو به په ګډه کار کوو او خلګو ته به په بیلابیلو برخو کی غوره خدمتونه وړاندی کوو تر څو زیانمنی کورنۍ پر وخت د مرستو څخه برخمنی سی او اساسی کارونه ورته وسی.

د غونډې په ورسیتو کی پریکړه وسوه چی په نژدې راتلونکی ورځو کی به د یادی ادارې او WFP تخنیکی ټیمونه د تخنیکی مسایلو د څیړلو لپاره غونډه وکړی.

## د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۶,۲۷۰,۰۰۰ افغانۍ ۵۰۰ اړمنو کورنیو ته وویشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د پاملرنې نړیوالې موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ, ۵۰۰ اړمنو کورنیو ته د یاد ولایت په مرکز ګردیز او زرمت ولسوالۍ کې له سروې وروسته نغدی مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رییس مولوی نثار احمد نجات او د موسسې د استازی په شتون کې هرې کورنۍ ته ۱۲,۵۴۰ افغانۍ وویشل شوې, چې ټولټال ۶,۲۷۰,۰۰۰ (۶ میلیونه او ۲۷۰ زره) افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## موسسه یونیسف ۳۰۰ بسته البسه زمستانی برای ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کاپیسا مساعدت نمود



به اساس هماهنگی سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با مسوولان موسسه یونیسف، این موسسه به تعداد ۳۰۰ بسته البسه زمستانی را به ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کاپیسا مساعدت نموده و در گدام‌های آن ریاست جابجا گردید.
گفتنی است که این کمک‌ها برای متضرران ناشی از حوادث و خانواده‌های آسیب‌پذیر توزیع خواهد شد.

## د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۵۰ اړمنو کورنیو ته غیرخوراکي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د ماشومانو د ژغورنې موسسېSave The Children  ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالي همکارۍ، ۲۵۰ اړمنو کورنیو ته په خاکریز ولسوالۍ کې غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې له سروې وروسته هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۵ تختې کمپلې، ۷ ښځینه او نارینه جاکټونه، ۴ پتوګان، ۶ جوړه بوټونه، ۱۲جوړه جرابې، ۴جوړه دستکشونه،۲ بکسونه، او ۲ ژمنی خولۍ ووېشل شوې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بدخشان مبلغ ۱۵،۳۸۷،۴۰۰ افغانی و مواد غیر خوراکی را برای ۷۵۸ خانواده توزیع کرد



به اساس تفاهم‌نامه‌ای که قبلاً میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با کمیته ناروی به امضا رسیده بود، کمیته متذکره در هماهنگی با ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بدخشان، برای ۷۵۸ خانواده آسیب‌دیده و بی‌بضاعت در مرکز آن ولایت مساعدت نقدی و مواد غیر خوراکی توزیع نمود.
در این پروسه با حضور مسوولان به هر خانواده مبلغ ۲۰،۳۰۰ افغانی پول نقد و ۵ تخته کمپل توزیع شد که در مجموع مبلغ ۱۵،۳۸۷،۴۰۰ افغانی برای این خانواده‌ها اختصاص یافته بود.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۷۸ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د ډنمارک د کډوالو شورا (DRC) ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړې لیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې شورا په مالی ملاتړ، په اچین او سپین غر ولسوالیو کې د طبیعی او غیرطبیعی پېښو له امله ۷۸ زیانمنو کورنیو ته د کورونو د جوړولو په موخه نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته له ۲۲،۰۲۰ نه تر ۷۲،۸۰۰ افغانۍ نغدی پیسې ووېشل شوې، چې ټولټال ۳،۰۳۱،۲۸۰ (۳ میلیونه، ۳۱ زره او ۲۸۰) افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل برای ۲۰۰ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های غیرخوراکی توزیع کرد




بر اساس تفاهم‌نامه‌ای که میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه درمان به امضا رسیده است، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل با همکاری مالی این مؤسسه، برای ۲۰۰ خانواده آسیب دیده در این ولایت کمک‌های غیرخوراکی توزیع کرد. در این روند، پس از سروی، برای هر خانواده در حضور مسئولان ۲ تخته کمپل و ۲ جوره جمپر برای کودکان توزیع شد.

## په سرپل ولایت کې د سوداګریزو مرکزونو او د پمپ استېشنونو سروې ترسره شوه



په سرپل ولایت کې د اورلګېدنې د مخنیوی دایمی کمېټې، په یاد ولایت کې د سوداګریزو مرکزونو او پمپ ستېشنونو سروې وکړه او د یادو مرکزونو څښتنانو ته یې د احتمالی اورلګېدنې پر وړاندې د خوندیتوب تدابیرو نیولو په اړه لازمې لارښوونې او سپارښتنې وکړې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لوگر برای ۲۰۰ خانواده بی‌بضاعت مواد غیر خوراکی توزیع کرد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لوگر با حمایت موسسه یونیسف، برای ۲۰۰ خانواده بی‌بضاعت و مستحق در ولسوالی خروار مواد غیر خوراکی توزیع نمود.
در این پروسه با حضور مسوولان به هر خانواده یک تخته کمپل و یک بسته صحی توزیع گردید.
در اخیر مستفدین از آن ریاست و موسسه متذکره ابراز قدردانی و تشکری نمودند.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ برای ۱۶۲ نفر بی‌بضاعت البسه زمستانی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ، برای ۱۶۲ تن افراد بی‌بضاعت و فقیر در نواحی مختلف شهر مزار شریف بعد از سروی البسه زمستانی توزیع نمود.



## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت هرات برای ۳۲ خانواده آسیب‌دیده مواد خوراکی و غیرخوراکی توزیع کرد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت هرات، برای ۳۲ خانواده که از اثر حوادث طبیعی، غیر طبیعی و آتش سوزی آسیب‌دیده بودند، بعد از سروی مواد خوراکی و غیرخوراکی توزیع نمود.
در این پروسه با حضور مسوولان، به هر خانواده ۱ بوری آرد ۵۰ کیلویی، ۱ بوری گندم ۵۰ کیلویی، ۱ بوری برنج ۲۵ کیلویی، ۱ باب خیمه، یک بسته البسه و یک بسته آشپزخانه توزیع گردید.

**عامه پیغامونه :**

**6. پر یخ شوي سړک باندې په ډېر احتیاط تګ کوئ**

**7. د باران او واورې اورېدو په وخت کې په ډېر احتیاط تګ کوئ**

**8. د موټر چلولو په وخت کې د ترافیکي اصولو په پام کې نه نیول ډېر خطرونه رامنځته کوي**

**9. موټر په احتیاط چلوئ چې هدف ته ژر ورسېږئ چټک تګ مه کوئ چې د کومې پېښې د رامنځته کېدو له امله دربانديې ناوخته نشي**